❖❖❖

# د حماس او اسرائیلو وروستۍ جګړه او پر سیمه یې اغېزې

څېړندوی عبدالصبور مبارز *

***لنډیز***

*حماس د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر پر ۷مه د خپلې خاورې د ازادۍ په موخه پر اسرائیلیانو برید وکړ. دغه برید پر منځنی ختیځ امنیتي، سیاسي او اقتصادي اغېزې لرلې. د سیمې امنیت ورسره خراب شو، ځینې نورې ډلې هم جګړې ته راداخلې شوې، ایران او اسرئیل پر یو او بل بریدونه وکړل، او دغه راز اسرائیلو په لبنان او سوریې پر مشخصو هدفونو بریدونه وکړل، چې په امنیتي لحاظ یې پر سیمه منفي اغېزې وښندلې. همدارنګه له سیاسي پلوه د اسرائیلو او د سیمې د ځینو هېوادونو اړیکې پرې شوې او په اقتصادي لحاظ ورسره د تېلو نرخونه لوړ او ټرانزیټي لارې ناامنه شوې. د څېړنې مسئله دا ده چې د حماس د دومره پراخ برید هغه لاملونه څه وو، چې په غزه کې نږدې څلوېښت زره کسان په‌کې شهیدان شول او بیا پر سیمه د دغه برید مشخصې سیاسي، امنیتي او اقتصادي اغېزې څه وې. په څېړنه کې له کتابتوني ډول او تشریحي- تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. د څېړنې موندنې ښيي، چې حماس غوښتل د دغه برید له لارې د فلسطین او بیت المقدس په اړه خپل دریځ روښانه کړي او نړۍ ته وښيي، چې دوی د فلسطین د قضیې مدافعین دي او هېڅکله به دا قضیه له لاسه ورنه کړي. د دې ترڅنګ حماس غوښتل، چې د دغه برید له لارې د سعودي عربستان او نورو عربي هېوادونو او اسرائیلو ترمنځ د نارملایزیشن تړون مخنیوی وکړي، په اسرائیلي زندانونو کې پراته خپل بندیان ازاد کړي او د خپلې خاورې د ازادۍ داعیه ژوندۍ وساتي.*

***کلیدي کلمې:*** *حماس، اسرائیل، د اکتوبر ۷، منځنی ختیځ، فلسطین.*

---

* د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی.

**سریزه**

د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر پر ۷مه حماس د خپلې خاورې د دفاع په موخه پر اسراییلیانو برید وکړ، چې له امله یې د صهیونستي رژیم او فلسطیني دولت ترمنځ جګړه ونښته، دا جګړه یو کلنه شوه او لا هم روانه ده. په جګړه کې اسرائیلو د ټولو نړیوالو مقرراتو خلاف د امریکا متحده ایالاتو په ملاتړ د فلسطین په نسل وژنې او د هغوی په اجباري مهاجرت لاس پورې کړ. اسرائیلو د جګړې په اړه د ژنیو نړیوال تړونونو هم نقض کړ، ځکه روغتونونه یې بمبار کړل، ملکي ودانۍ یې ویجاړې کړې، امبولانسونه یې بمبار کړل او تر سپټمبر (۲۰۲۴ز) پورې نږدې ۴۱۰۰۰ زره ملکیان چې ۱۶۵۰۰ په کې کوچنیان دي ووژل، او ۹۴۱۵۴ یې ټپیان کړل، چې ترڅنګ یې له ۱۰ زرو ډېر نور له خپلو کورنیو نادرکه هم دي. (Aljazeera, 2023) دا ټول د دې ښودنه کوي، چې اسراییلو په فلسطین کې جنګي جرمونه هم کړي دي.

په دې جګړه کې اسراییلو کیمیاوي وسلې هم کارولې دي، چې له یوې خوا یې فلسطین د چاپیریالي ککړتیاوو سره مخامخ کړی او له بلې خوا یې ګڼ امراض رامنځته کړي. د ښوونې او روزنې سیستم خراب شوی، د فلسطین د ښوونې او روزنې وزیر ویلي چې په دې جګړه کې ۱۳ میلیونه ډالرو په اندازه د ښوونې او روزنې ساختمانونو او ٦ میلیونه ډالرو په اندازه توکو زیان لیدلی دی.(Abushabab, 2014) په دې جګړه کې د فلسطین زېربنا له منځه تللې، د خوراکي او طبي موادو قحطي رامنځته شوې او فلسطین په لوړه کچه له اقتصادي ستونزو سره مخامخ شوی دی.

د څېړنې مسئله دا ده چې پر اسرئیلیانو د حماس د دومره پراخ برید هغه لاملونه واضح شي، چې تر څلوېښت زره زیات کسان په کې شهیدان او تر ۹۰ زرو زیات نور په‌کې ټپیان شول. د دې ترڅنګ، د غزې د ولس د دومره سترې قربانۍ او د برید د لاسته راوړنو ترمنځ یوه تناسبي ارزونه هم وشي او بیا پر سیمه د دغه برید مشخصې سیاسي، امنیتي او اقتصادي اغېزې هم روښانه شي.

دا موضوع له دوو اړخونو اهمیت لري: لومړی دا چې فلسطین او بیت المقدس په دیني لحاظ مسلمانانو ته اهمیت لري او اوس د اسرائیلو تر سختو بریدونو لاندې ده، نو ځکه مهمه ده چې دا موضوع لا ژوره وڅېړل شي. دویم، په سیاسي لحاظ په منځني ختیځ کې دې جګړې په پراخه کچه بدلونونه راوستي او د سیمې پر سیاسي، امنیتي او اقتصادي حالاتو یې اغېزې کړې دي. همدارنګه د منځني ختیځ دا جګړه په بین المللي نظام هم اغېزه لري، نو له دې اړخه هم مهمه ده چې دا موضوع وڅېړل شي.

دا چې حماس ولې دا برید وکړ او دا جګړه پر سیمه کومې اغېزې لري؟ د دې څېړنې بنسټیزه پوښتنه ده چې د ځوابولو له لارې یې د څېړنې موخه د حماس او اسرائیلو د وروستۍ جګړې تشریح کول، لاملونه یې واضحه کول او پر سیمه یې د اغېزو روښانه کول دي.

په دې څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي مېتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوې او د موضوع د روښانه کولو لپاره د جوړښتي ریالیزم[1] تیورۍ له تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې ده. جوړښتي ریالیزم تیوري په ۱۹۷۹ز. کال کې کېنت والتز[2] وړاندې کړه او ځکه ورته جوړښتي/ساختاري ریالیزم وایي چې د دې تیورۍ پر بنسټ نړیوال ساختار یا نړیوال نظام کې انارشي ده، یعنې په نړیواله سطحه داسې یو واحد دولت یا قدرت نشته چې هغه پر ټولو دولتونو حاکم وي او دولتونو پر یو او بل له تیري او برید څخه وژغوري، نو په داسې یو نړیوال نظام کې هر دولت له خپل ځان څخه د دفاع مسؤلیت لري او د همدغې دفاع لپاره دولتونه د قدرت د زیاتولو او قدرتمند کېدلو لپاره له هر ډول وسایلو څخه کار اخلي ترڅو خپل دښمن او سیال یا وځپي[3] او یا هم له هغه

[1] Structural Realism

[2] Kenneth Waltz

[3] کله چې د قدرت زیاتېدل په دې موخه وي چې خپل سیال وځپي، نو دې ته ( Offensive Structural Realism) ویل کیږي.

څخه د ځان دفاع وکړي.[۱] (MEARSHEIMER, 2007, P. 72-73) د دې تیورۍ په چوکاټ کې موږ د حماس او اسرائیلو دا جګړه څېړو، ځکه د دې جګړې اصلي لامل که د دې تیورې په چوکاټ کې وڅېړل شي، نو معلومیږي چې د اسرائیلو له لوري د حماس په مقابل کې د قدرت د زیاتېدو، د فلسطیني خاورې د اشغال او بیا د حماس له منځه وړلو لپاره چې کومې هڅې ترسره شوې د هغې په مقابل کې حماس اړ شو چې برید وکړي او په نړیوال نظام کې له خپل ځان څخه خپله ساتنه وکړي، چې د حماس دې کار ته د ساختاري ریالیزم تیورې په چوکاټ کې (Self-help) ویل کیږي.

مقاله له جوړښتي اړخه په دریو برخو ویشل شوې ده: لومړی د فلسطین د قضیې تاریخي شالید څېړل شوی، بیا د اووم اکتوبر پر جګړې بحث شوی او په وروستیو کې پر سیمه او ځانګړې توګه منځني ختیځ د دغې جګړې اغېزې روښانه شوې دي.

## د فلسطین د قضیې تاریخي شالید

په دې برخه کې لومړی د بېلفور له اعلامیې راهیسې د فلسطین د قضیې پر لنډ شالید بحث کوو:

### ۱- د بېلفور اعلامیه[۲]


د ۱۹۱۷ز. کال د نومبر پر ۲مه د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر د یهودانو مشر والټر ته یو خط ولیکه چې ٦٧ کلمې و، په دغه خط کې راغلي وو: (برتانوي حکومت متعهد دی چې په فلسطین کې د یهودانو لپاره خپل کور جوړ کړي) همدغه خط د بېلفور د اعلامیې په نوم مشهور دی.(Zena Al Tahhan, 2018 ) په دغه خط کې یو اروپایي قدرت له صهیونستي خوځښت سره د داسې ځای وعده وکړه، چې هلته ۹۰ سلنه عرب فلسطینیان اوسېدل. د همدغې وعدې په تعقیب، بریتانیې له ۱۹۲۳ز. کال څخه تر ۱۹۴۸ز. کال پورې

---

[۱] کله چې د قدرت زیاتېدل په دې موخه وي چې له خپل سیال یا دښمن څخه پرې دفاع وکړې، نو دې ته (Defensive Structural Realism) ویل کیږي.

[2] Balfour Declaration

د نړۍ له بېلابېلو سیمو څخه یهودان فلسطیني خاورې ته راوستل او دلته یې مېشت کړل. (Haddad and Chughtai, 2023)




### ۲- د ملګرو ملتونو د بېلوالي پلان

تر ۱۹۴۷ز. کال پورې په فلسطین کې د یهودانو فیصدي **۳۳** ته ورسېده، خو ساحه یې یوازې ۶ سلنه نیولې وه. په همدغه کال ملګرو ملتونو ۱۸۱ پریکړه‌لیک صادر کړ او فلسطین یې په دوه دولتونو یهودي او فلسطین تقسیم کړ. فلسطینیانو دا پلان رد کړ ځکه د فلسطین ۵۵ سلنه خاوره یهودانو ته ورکړل شوې وه. (Ibid)



په ۱۹۴۸ز. کال د مې پر ۱۴مه بریتانوي قیمومیت پر فلسطین پای ته ورسېد او د ځمکې پر سر د فلسطین او اسرائیلو شخړه پیل شوه. د اسرائیلو په لومړنۍ حمله کې ۱۵۰۰۰ فلسطینیان شهیدان، ۷۸ سلنه خاوره یې اشغال او ۲۲ سلنه خاوره یې په دوه برخو وویشل شوه، غزه او غربي ساحلي سیمه یا ویسټ بېنک (West Bank).

۷ نیم لکه فلسطینیان په زوره له کورونو وایستل شول او اوسمهال نږدې ٦ میلیونه فلسطینیان د فلسطین په داخل کې بې‌ځایه او نور یې ګاونډیو هېوادونو لکه مصر، سوریه، لبنان او اردن ته مهاجر شول.

په ۱۹۴۸ز. کال د مې پر ۱۵مه اسرائیلو خپل دولت اعلان کړ. ( Hatuqa, 2023) یوه ورځ وروسته د عربانو (اردن، سوریه، عراق، لبنان او مصر) او اسرائیلو لومړی جنګ پیل شو، چې بیا په ۱۹۴۹ ز. کال جنورۍ کې پای ته ورسېد. ویسټ بېنک اردن ترلاسه کړ او غزه مصر واخیسته.

**۳- ۱۹٦۷ عرب او اسرائیلو شپږ ورځنۍ جګړه**

په ۱۹٦۷ز. کال کې اسرائیلو د غربي ساحل او غزې د اشغال په موخه په دې سیمه حمله وکړه. په دې جګړه کې عربانو ماتې وخوړه او سینا دښته او غزه یې له مصر، ویسټ بېنک یې اردن او ګولن غرونو ځینې برخې یې له سوریې څخه ونیولې. (Cohen, 2017)

**۴- اوسلو تړون**

په ۱۹۹۳ کې د اوسلو تړون لاسلیک شو چې پر بنسټ یې په غربي ساحل یا ویسټ بېنک او غزه کې فلسطیني دولت رامنځته شو. که د دې تړون شالید مطالعه کړو، نو معلومه به شي چې څومره په هوښیارۍ اسرائیلو اشغال شویو سیمو ته قانوني حیثیت ورکړ.

د عرب-اسرائیل د قضیې بل اړخ د فارس خلیج دویمه جګړه وه، چې د عراق او کویټ ترمنځ وه، د دې جګړې اصلي لامل د کویټ ۳۰ ملیارده ډالر وو، چې له عراق څخه یې غوښتل او عراق نه ورکول. اصلي خبره دا وه چې عراق له عربي هېوادونو څخه له ایران سره په جګړه کې ۱۳۰ میلیارده ډالر مرسته اخیستې وه، له جګړې وروسته عراق عربي

هېوادونو ته ووېل چې دا جګړه ما ستاسې په ګټه کوله، نو دا پېسې راته وبښئ. نورو هېوادونو ضمني توافق وکړ، خو کویټ ځان ټینګ کړ او پېسې یې وغوښتې. د عراق دلیل دا و چې که یې په ایران حمله نه وی کړې، نو په کویټ به ایران حمله کړې وه، خو کویټ دا پېسې نه بښلې. هماغه وو چې عراق په ۱۹۹۰ز. کال کې پر کویټ برید وکړ. دا هغه وخت و چې سړه جګړه پای ته رسېدلې وه او نوی بین المللي نظام د ازمایښت په حال کې و. (Aljazeera, 2023) د فارس خلیج جګړې یوه پایله دا شوه، چې د عربانو او اسرائیلو د منازعې د حل لپاره لاره خلاصه شوه. ځکه اسرائیلو ولیدل چې د هغوی پخواني دښمنان سعودي عربستان، کویټ او سوریه په دې جګړه کې له اسرائیلو سره هم نظره شول او د دوی نږدیکت ته لاره هواره شوه او له بله پلوه عربان د امریکا تر احسان لاندې وو، نو امریکا هم غوښتل چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي.

څلور میاشتې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر منځني ختیځ، اروپا او شوروي اتحاد ته سفرونه وکړل ترڅو یو نړیوال کنفرانس دایر شي او دا مسئله حل شي. د ۱۹۹۱ز. کال په اوړي کې د عربو او اسرائیلو ترمنځ د هوکړه‌لیک یوه طرحه چمتو شوه. د دې طرحې پر بنسټ باید یو نړیوال کنفرانس جوړ شوی وی، چې شوروي اتحاد، د امریکا متحده ایالات، اسرائیل، سوریه، لبنان، اردن او فلسطین به یې غړي وي.

د ۱۹۹۱ز. کال د اکتوبر پر ۳۰مه په مادرید کې کنفرانس پیل شو او لنډ وخت وروسته په واشنګټن کې مذاکرات پیل شول. په دغو مذاکراتو کې لا پرمختګ نه و شوی، چې په اسرائیلو کې ټاکنې وشوې. حاکم حکومت وبایلله او اسحاق رابین واک ته ورسېد.

د اسحاق رابین له واک ته رسېدو وروسته په ۱۹۹۳ز. کال کې بوش هم له واک لرې شو او کلنټن واک ته ورسېد. کلنټن داخلي سیاست ته ترجیح ورکړه او دا موضوع همداسې پاتې شوه. اسحاق رابین په ټاکنو کې له خلکو سره وعده کړې وه، چې له عربانو سره به سوله کوي، له همدې امله یې له یاسر عرفات سره په اوسلو کې پټ مذاکرات پیل

کړل. د ۱۹۹۳ز. کال په اگست میاشت کې دواړه دې هوکړې ته ورسېدل، چې راتلونکو پنځو کالو کې به په تدریجي ډول اسرائیلي پوځیان له غزې او غربي ساحل (West bank) څخه ووځي او یو خپلواک فلسطیني حکومت به د یاسر عرفات په مشرۍ رامنځته شي. دې هوکړې د کلنټن توافق ته اړتیا لرله، نو ځکه د سپټمبر پر ۱۳مه په سپینه ماڼۍ کې دا هوکړه اعلان شوه، چې دې هوکړې ته د اوسلو تړون ویل کېږي.

له دې هوکړې سره ځینې فلسطینان او اسرائیلیان مخالف وو. د اسرائیلو دلیل دا و، چې له دې کار سره به د لوی اسرائیل رامنځته کېدل له خنډ سره مخ شي او د فلسطین دلیل دا و، چې دا د صهیونستانو او د غرب رامنځته شوی چل دی او باید له منځه یوړل شي او دا تړون د اشغال شویو سیمو په رسمیت پېژندل دي.

د ۱۹۹۵ز. کال د نومبر پر۴مه اسحاق رابین خپلو ۱۰۰ زره پلویانو ته وینا کوله، چې یوه ۲۳ کلن اسرائیلي پرې برید وکړ او ووژل شو. (سازمند، ۱۳۹۰ هـ.ل.، ۱۶۵- ۱۶۷ مخونه)

د اوسلو تړون اصلي طراح شیمون پرز سرپرست شو او ټاکنو ته هم ودرېده، کلنټن هم د بنیامین نتانیاهو په مقابل کې د ده ملاتړ وکړ، خو بیا یې هم وبایلله، او نتانیاهو د پرز په لاس ترسره شوې هوکړې وځنډولې او په تدریجي ډول یې د سولې تړون هم له منځه یووړ او یهودي ښارگوټو جوړولو او اشغال ته یې ادامه ورکړه.

### د حماس حکومت لاسته راوړل او ټاکنې گټل

د ۲۰۰۶ز. د جنورۍ پر ۲۵مه په غربي ساحل او غزه کې یعنې ټول فلسطین کې پارلماني ټاکنې وشوې، چې په‌کې د پارلمان له ۱۳۲ څوکیو څخه ۷۶ څوکۍ حماس او ۴۳ څوکۍ د محمود عباس په مشرۍ فتح گوند وگټلې. (Jeffery and Agencies, 2006) د حماس مشر اسماعیل هنیة لومړی وزیر شو. هنیة د دې له امله چې د فتح گوند او حماس ترمنځ خپلمنځي اختلافات زیات نه شي، محمود عباس سره یې د مشترک حکومت جوړولو پرېکړه وکړه؛ خو دې کار پایله ورنه‌کړه او د همدې کال په اوږدو کې د فتح او

حماس ترمنځ داخلي جنگ ونښت، چې له امله یې په ۲۰۰۷ز. کال د جون پر ۱۴مه په غزه کې فتح گوند ماتې وخوړه او حماس د غزې کنټرول ترلاسه کړ. له امله یې محمود عباس مشترک حکومت لغوه کړ او سلام فیاد یې د اسماعیل هنیة پرځای وټاکه. حماس دا ډول حکومت رد کړ او تر نن ورځې په غربي ساحل کې محمود عباس او په غزه کې د حماس حکومت دی، ځکه نږدې ۱۶ کاله کېږي چې بیا ټاکنې نه دي شوې او دا موضوع همداسې پاتې ده.

په غربي ساحل کې حکومت د ملگرو ملتونو له خوا په ۲۰۱۲ز. کال کې د ۱۳۸ ملتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شو او امریکا متحده ایالاتو او اروپایي اتحادیې له خوا له همدوی سره مرستې هم کېږي.

**د اکتوبر ۷م د برید لاملونه**

پوښتنه داده چې حماس ولې برید وکړ؟ دلته پر هغو لاملونو بحث کوو چې حماس یې برید کولو ته اړ کړ:

**۱- د حماس او فلسطین د له منځه تللو مخنیوی**

د ساختاري ریالیزم کومه تیوري چې د دې څېړنې لپاره موږ مطرح کړه، که د هغې تیورۍ په چوکاټ کې پر اسرئیلیانو د حماس د برید لاملونه مطالعه کړو، نو لومړنی ستر لامل دا دی چې اسرائیلو غوښتل چې په منځني ختیځ او د حماس په مقابل کې ځان قدرتمند کړي او حماس چې د دوی ستر دښمن دی هغه له منځه یوسي، ترڅو په نړیوال نظام کې له یوې خوا د خپل ځان ساتنه وکړي او له بلې خوا خپل دښمن وځپي. دا لامل د فلسطین حکومت پخواني د اطلاعاتو وزیر مصطفی بوگتي په سي ان ان تلویزیون کې له فرید زکریا سره په مرکه کې بیان کړ. نوموړي وویل: د ۲۰۲۳ز. کال د ملگرو ملتونو د سپټمبر د میاشتې په غونډه کې د اسرائیلو لومړي وزیر نتنیاهو له ځان سره د اسرائیلو نقشه راوړې او گډونوالو ته یې وښودله. په دې نقشه کې غزه، لویدیځه ترانگه، بیت المقدس

او گولن غرونه د اسرائیلو د خاورې برخه ګڼل شوې وو او نوموړې دا هم وویل چې اسرائیل له خپلو عربو ملګرو سره په مذاکراتو لګیا دی ترڅو خپلې اړیکې ورسره عادي کړي او ډېر ژر به د سعودي عربستان سره هم د نارملایزیشن تړون لاسلیک کړي. (Safdar, 2024, P. 166- 167) د نتنیاهو دغه خبرې او کړنې د دې معنی ورکوي چې دوی د ساختاري ریالیزم د تیورۍ پر بنسټ غواړي خپل قدرت زیات کړي چې له لارې یې یا له ځان څخه دفاع وکړي او یا هم خپل دښمن حماس پرې له منځه یوسي. بالمقابل حماس هم د اسرائیلو دغه کړنې او له عربانو سره یې د اړیکو عادي کېدل ګواښ ګڼي او داسې فکر یې وکړ که اسرائیل قوي کېږي، نو دا د حماس او د فلسطین د قضیې د له منځه تللو په معنی ده، نو د فلسطین د قضیې د ژوندۍ ساتلو او د حماس د له منځه تللو د مخنیوي په موخه حماس اړ شو چې پر اسرائیلیانو برید وکړي او د ساختاري ریالیزم په چوکاټ کې دا د دې جګړې د پیل لومړنی لامل دی.

### ۲- د خپلې خاورې ازادي

په ۲۰۱۷ز. کال کې د اسرائیلو د (یهودي کور حزب) مشر بېزالیل سموترېش یوه اوږده مقاله خپره کړه چې په کې یې د فلسطین مقدسې ځمکې لپاره د اسرائیلي صهیونېزم نوی پلان کاږلی و. دې پلان ته ده د پرېکړه کوونکي پلان نوم ورکړی و. (Bader, 2023) دا اوږد سند د بحث بېلا بېل اړخونه لري چې لنډیز یې دلته رانقلوم:

د سموترېش په فکر یهودان معنوي او عقیدوي مسؤولیت لري چې د منځني ختیځ په زړه کې لوی اسرائیلي دولت جوړ کړي، دا اسرائیل به له نهر څخه تر سمندر پورې ځمکنۍ بشپړتیا لري او د فلسطین په نوم کوم بل هېواد به په‌کې ځای نه لري. سموترېش د اسرائیلو له هغه تندروو ډلو څخه دی، چې د اسرائیلو او فلسطین تر منځ په دوه – دولتي حل باور نه لري. دا چې دا پلان څنګه عملي شي، سموترېش کاږي:

اسرائیل باید لومړی د فلسطین لوېدیځې څنډې ته پام وکړي چې په‌کې ډېر شمېر فلسطینیان اوسېږي. په دې برخه کې باید اسرائیل د یهودو د ځای پر ځای کولو لپاره مؤثره

ستراتیژي ولري ترڅو په لنډه موده کې د عربو او یهودو ترمنځ ډیموګرافي یا د وګړشمېرنې توازن بدل شي. ترڅو چې موږ د فلسطین په غربي څنډه کې د عربو په مقابل کې د یهودو وګړو شمېر د اسرائیلو په ګټه نه وي بدل کړی، فلسطین نه شو ګټلای.

د پلان دویمه برخه دا ده چې د لوی اسرائیل د ځمکو په اړه باید عربانو ته د ژوند لپاره درې انتخابه ورکړل شي:

لومړی انتخاب به دا وي چې دوی د لوی اسرائیل حکومت ومني او تر چتر لاندې یې د اوسېدلو ژمنه وکړي. په دې انتخاب کې به دوی یوازې د ښاروالۍ د ټاکنو حق لري او کولای به شي چې د ښاروالۍ تر حده خپل مشران انتخاب کړي، له دې پورته به دوی په سیاسي برخه کې هېڅ صلاحیت نه لري. دوی هغه وخت کولای شي چې د اسرائیلو کنیسېټ (پارلمان) ته رایه وکاروي چې دولت د اسرائیلو نظام ته د دوی په وفادارۍ باوري شي. دا باور به د دوی له نظامي روزنې او بېلا بېلو امتحاناتو وروسته مالومېږي.

دویم انتخاب د هغو عربانو لپاره دی چې خپل عربي هویت له لاسه نه ورکوي او نه غواړي داسرائیلو د لوی دولت تر چتر لاندې واوسېږي، دوی دې د عربو نورو هېوادونو، اروپا او لاتین امریکا ته مهاجر شي. دوی کولای شي هلته تابعیتونه واخلي او د تل لپاره له دې ځمکې تېر شي.

واضحه ده چې ځینې خلک به دا دواړه انتخابه نه مني، د هغوی لار دریم انتخاب دی. دوی سره به جګړه کېږي او ټوپک په زور به له دې سیمې ایستل کېږي ځکه دوی تروریستان دي او حق نه لري چې په دې سیمه کې اوسېږي.

د سموټرېش د دې پلان داعیه دا ده چې د دوه – دولتي حل (فلسطین او اسرائیل) ناکام حل دی. له ۱۹۶۷م ، بیا اوسلو او بیا له ۲۰۰۷ وروسته د اسرائیلو منځلاري په دې پلان کې کامیاب نه شول، دوی ونه توانېدل د مسلمانانو او عربانو تر منځ داسې اسرائیل رامنځ ته کړي چې امن وي. د ده په ادعا ترڅو چې مسلمانان دې سیمو کې وي، اسرائیل

امن نه شي پاته کېدلای. له څه مودې راهیسې اسرائیلو د سموتریش پر دې پلان عملي کار پیل کړی چې ځینې نښې یې په لاندې ډول دي:

اسرائیلو د فلسطین په لویدیځه څنډه کې تقریبا ۲ میلیونه یهودیان ځای پر ځای کړي او لا یې پر دې پروسه کار روان دی. دوی غواړي د فلسطین د وګړ شمېرنې توازن د یهودو په ګټه بدل کړي ترڅو د فلسطینانو د شړلو په وخت له ستونزو سره مخ نه شي.

هغه فسلطینیان چې ۳ کاله فلسطین ته ولاړ نه شي، د دې هېواد تابعیت یې سوځي او دوی ته اجازه نه ورکول کېږي چې خپلو سیمو ته ولاړ شي.

د فلسطین لودیځه څنډه چې د ۱۹٦۷م او اوسلو په توافق د فلسطیني حاکمیت (عباس حکومت) برخه ده، اوس یې په ٪۷۰ ځمکه د اسرائیلو ولکه ده.

د ۱۹٦۷م د غربي څنډې په هر ښار کې اسرائیلي چک پوستونه دي چې د محمود عباس د حکومت له اجازې پرته هر وخت کولای شي فلسطیني وګړي ونیسي او د خپلو زندانونو ته یې انتقال کړي.

حماس د اسرائیلو پرمختګ او د دوی حساس فعالیت څاري. په ۲۰۲۱م کې د قدس د توري جګړه حماس په دې محاسبې پیل کړه چې اسرائیلو ته د سور خط سګنال ورکړي. حماس په دې هم پوهېده چې د محمود عباس فلسطینی حاکمیت چې په غربي څنډه حکومت لري، د اسرائیلو د مخنیوي توان او اراده نه لري. په ۲۰۲۱م کې حماس محاسبه تغییر کړه او اسرائیل ته یې د دې خبرداریۍ ورکړ چې که دوی روان طبعي حالت بدلوي، دوی غلي نه پاته کېږي.

د نتنیاهو نوی حکومت چې له یهودي کور حزب او د صهیونستانو حزب سره یو ځای جوړ شوی، سموتریش پکې د مالیې وزیر او د دفاع وزارت با صلاحیته مشاور دی.

په سیمه کې د اسرائیلو د تطبیع بحثونو حماس ته دوه انتخابه پرېښودل:

لومړی انتخاب دا و چې سر ښکته کړي او په دې وجه د فلسطین قضیه له لاسه ورکړي، چې که دوی حمله وکړي، اسرائیل به د غزې په خلکو بمباري وکړي. دې محاسبه کې

ښایي حماس د لنډې مودې لپاره خلک بچ کړي وو، خو د فلسطین تاریخي قضیه به یې یهودو ته بایللې وه او تل لپاره به یې د فلسطین له قضیې لاس مینځلي وو.

دویم انتخاب دا و، چې د دوی لپاره چپ پاتې کېدل د دوی د محوه کېدو په معنی ده او که حماس غواړي ځان د فلسطین د قضیې استازی ثابت کړي، باید د منځني ختیځ سیاسي معادله بدله کړي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې حماس د دویمې لارې په انتخاب ځان د فلسطین د قضیې استازی طرف ثابت کړ، چې د راتلونکي لپاره د سیمې او نړۍ لخوا له پامه نه شي غورځېدل کېدای، خو دا چې د دې ثبوت قیمت به څومره وي، د جګړې آینده او د حماس راتلونکي پلانونه به یې په ډاګه کوي.(قانت، ۱۴۰۲ هـ.ل.)

### ۳- د بیت المقدس په اړه د دیني مکلفیت اجراء کول

بیت المقدس د درېو دینونو اسلام، یهودیت او مسیحیت لپاره مقدس ځای دی. دا د مسلمانانو لومړنۍ قبله ده. حضرت محمد - صلی الله علیه وسلم - له همدې ځایه اسمان ته ختلی. دا د پیغمبرانو ځمکه ده. په همدې ځمکه ابراهیم علیه السلام د خپل زوی اسماعیل علیه السلام د قربانۍ اراده کړې وه. (Aljazeera, 2023) حماس هم د دې ځمکې همدې تقدس ته په کتلو له دې څخه دفاع کوي او د ۷م اکتوبر د حملې تر شا یو لامل دا هم دی.

### ۴- د بندیانو ازادول

اوسمهال د اسرائیلو په زندانونو کې په زرګونو فلسطینیان بندیان دي چې په دې کې د حماس مجاهدین هم شامل دي، دا هم ویلای شو چې د دې برید یوه موخه دا ده چې حماس د اسرائیلو له زندان څخه خپل بندیان را ازاد کړي او په همدې موخه یې په دې جګړه کې ۲۲۲ اسرائیلیان او د نورو دولتونو وګړي بندیان نیولي دي. ویل کېږي چې په دې بندیانو کې ۱۰ امریکایي عسکر دي، ۸ جرمني دي، ۷ د انګلستان دي، ۷ فرانسویان

دي او د ارجنټاين او هالينډ په ګډون د ۱۷ هېوادونو عسکر په کې شامل دي. دې ته ورته پېښه کې په ۲۰۱۱ز. کال کې حماس د اسرائيلو قومندان ګيلاد شاليت په بدل کې ۱۰۲۷ فلسطيني بنديان ازاد کړي وو او اوس هم حماس ورته پلان لري، د يادونې وړ ده چې تراوسه د قطر او مصر په منځګړيتوب دوه امريکايان او ۴۸ نور بنديان د ۱۵۰ فلسطينيانو په بدل کې ازاد شوي دي. (Nakhoul, 2023)

**۵- د اسرائيلو او سعودي عربستان ترمنځ د نارملايزيشن تړون مخنيوی**

نارملايزيشن تړون د اسراييلو په رسميت پېژندل او له هغوی سره د اړيکو عادي کول دي. د دې تړون منځګړيتوب امريکا متحده ايالات کوي او تراوسه بحرين، مراکش، سوډان، متحده عربي امارت، اردن او مصر دا تړونونه لاسليک کړي دي.

په ۲۰۲۲ز. کال جوبايډن سعودي عربستان ته د سفر پرمهال له محمد بن سلمان سره دا موضوع ياده کړې او له نتنياهو سره يې د مذاکراتو پر پيل هم خبرې کړې وې. اسرائيلو او سعودي عربستان دواړو د ۲۰۲۳ز. کال د اګست په مياشت کې رسنيو ته ويلي وو، چې دوی د نارملايزيشن تړون ته نږدې شوي دي. سعودي عربستان له امريکا متحده ايالاتو څخه د دې تړون په بدل کې امنيتي ضمانتونه او د ملکي موخو لپاره د اتومي پروګرام ملاتړ غوښتی و. (Ellenbogen and Others, 2023) که دا تړون لاسليک شوی و، نو د منځني ختيځ په جيوپولټيکس کې به ستر بدلون راغلی وی او کېدای شي د فلسطين او بيت المقدس داعيه نوره تته شوې وی. له همدې کبله وايو چې د حماس له دې بريد يوه موخه دا وه چې د سعودي عربستان او اسرائيلو ترمنځ د نارملايزيشن تړون مخه ونيسي.

**٦- د اسرائيلو داخلي اختلافاتو څخه د فرصت په توګه ګټه اخيستل**

په ۲۰۱۹ز. کال کې په نتنياهو د فساد او رشوت تورونه ولګېدل او سياسيون او عام خلک د هغه د استعفاء غوښتونکي شول. په اسراييلو کې پارلماني نظام دی او نتنياهو تقريباً ١٦ کاله لومړی وزير پاتې شوی. تازه ټاکنې يې ۲۰۲۲ز. کال کې ګټلي او له هغې وروسته يې په قضائيه قوه کې بدلون راوست او واک يې ترې مقننه قوې ته انتقال کړ. دا

چې مقننه قوه کې دی اکثریت دی، غواړي خپل واک پراخ کړي. ځکه نو عام ولس پسې راپاڅېد او په بېلابېلو ښارونو کې یې لاریونونه وکړل، حماس هڅه وکړه چې د دوی له داخلي ګډوډیو څخه ګټه واخلي او له همدې امله یې دا یې برید پلان کړ.

## ۷- خپل داخلي او سیمه‌ییز موقف لوړول

په بیت المقدس کې د اسرائیلو ظلمونه له هېچا پټ نه دي. ټوله نړۍ د فلسطین مظلومان ګوري او زړه یې هم کېږي چې ترې دفاع وکړي، خو دا د حکومتونو د کچې خبره ده او په انفرادي ډول له فلسطین دفاع امکان نه لري او د ټولې نړۍ مسلمانان له عربانو او نورې اسلامي نړۍ غواړي چې له فلسطینیانو څخه دفاع وکړي، خو هغوی د خپلو ګټو له امله دا کار نه کوي او حماس دې کار ته ملا تړلې او له بیت المقدس څخه په یوازې ځان دفاع کوي، چې دې کار د حماس نړیوال او سیمه ییز موقف لوړ کړی او د مسلمانانو په زړونو کې یې ځای موندلی دی. همدارنګه په غربي ساحل یا ویسټ بېنک کې چې د محمود عباس حکومت دی، د هغه حکومت یې هم د دې برید له امله وننګاوه او د هغې سیمې خلکو هم له حماس خپل ملاتړ اعلان کړ. له دې معلومېږي چې په ټوله فلسطیني خاوره کې د حماس موقف او محبوبیت په لوړېدو دی. له جګړې مخکې یوه سروې شوې وه، چې د اسرائیلو پر وړاندې باید د جنګ موقف اختیار شي او که د سولې، ۵۳ سلنه خلکو د حماس موقف تایید کړی و او د حل یوازینی لاره یې جنګ بللی و. اوس له جګړې وروسته دا سلنه تقریبا ۷۰ ته رسېدلې ده، نو معلومېږي چې حماس د دې جګړې له لارې خپل سیمه ییز او داخلي موقف هم لوړ کړ.

## د امریکا متحده ایالات ولې د اسرائیلو ملاتړ کوي؟

په تېره سړه جګړه کې ځینې عربي هېوادونه د شوروي اتحاد ملګري وو. د امریکا متحده ایالاتو دا مهمه وګڼله، چې د دوی په مقابل کې یو ستراتیژیک دوست پیدا کړي. اسرائیل د مذهب، فکر او ایډیالوژۍ له اړخه د امریکا متحده ایالاتو ته ډېر مناسب انتخاب

و، چې له هماغه وخته ترې استفاده کوي. د امریکا متحده ایالاتو ۵ میلیونه یهودان چې د دغه هېواد په اقتصاد، پرمختګ او علمي لاسته راوړنو کې له پامه نه شي غورځېدلای، د اسرائیلو کلک ملاتړي دي. دوی چې د امریکا-اسرائیلو د عامه چارو د کمیټې AIPAC تر چتر لاندې راټول دي، اسرائیلو ته لابي کوي او د امریکا متحده ایالاتو بهرني سیاست ته د پیسو او ځواک پر مټ داسې مسیر ورکوي، چې د اسرائیلو په ګټه وي. د AIPAC غړي د امریکا متحده ایالاتو د لویو سوداګریو، پانګونو او شرکتونو مالکان دي، چې له ملاتړ پرته یې امریکا متحده ایالات نشي کولای خپل نظام مدیریت کړي او یا هم یو ګوند ټاکنې وګټي.

د امریکا یهود چې له سیاسي پلوه هم مؤثر خلک دي، توانېدلي چې د امریکا متحده ایالاتو په کانګرس او دواړو سیاسي ګوندونو کې نفوذ ولري. د یوې سروې له مخې دا مهال د امریکا متحده ایالاتو په کانګرس کې ۳۴ غړي یهودان او د اسرائیلو کلک ملاتړي دي. دا چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر بلېنکن تلابیب ته په خپل لومړي سفر کې وویل، چې زه نن د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیر په حیث نه، بلکې د یوه یهودي په حیث د اسرائیلو ملاتړ ته راغلی یم، د دې خبرې تر ټولو لوی ثبوت دی. دبایډن، بلینکین، دفاع وزیر، امنیت مشاور او د کانګرس د غړو له ځرګندونو په ډاګه کیږي چې AIPAC په امریکا کې څومره قوي ځواک دی، نو له دې معلومیږي چې امریکا متحده ایالات ولې له اسرائیلو ملاتړ کوي، ځکه یهود د امریکا متحده ایالاتو په سیاسي نظام کې مؤثر خلک دي او د امریکا متحده ایالاتو پر حکومت له داخل څخه ډېر فشار واردولای شي. همدارنګه د بایډن د جمهوري ریاست دوره هم په پوره کېدو ده او راتلونکو ټاکنو کې د دیموکراتانو بریالیتوب تر ډېره همدغه یهودانو پورې اړه لري او له همدې امله هم بایډن مجبور دی چې له اسرائیلو په کلکه ملاتړ وکړي. بله مهمه موضوع دا ده چې امریکا متحده ایالات په منځني ختیځ کې د اسرائیلو په څېر یو متحد ته اړتیا

لري ترڅو دغه سیمه پرې کنټرول کړي او که په اوسنیو شرایطو کې امریکا متحده ایالات له اسرائیلو ملاتړ ونه‌کړي، نو کېدای شي په سیمه کې دغه متحد له لاسه ورکړي.

## پر سیمه او نړۍ د دې جګړې اغېزې

د حماس او اسرائیلو د ۷م اکتوبر جګړه خپله پر دغه دواړو لورو او پر منځني ختیځ سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزې اغېزې لري، چې دلته پرې بحث کوو:

### ۱- سیاسي اغېزې

دې جګړې ځینې سیاسي اغېزې لرلې دي. لومړی دا چې د سیمې د ځینو هېوادونو او اسرائیلو ډیپلوماټیکې او سیاسي اړیکې ورسره خرابې شوې. ترکیه هغه هېواد دی چې اکثره وخت یې له اسرائیلو سره په سیاسي اړیکو کې ستونزې پیدا کېږي. په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۸ز. کالونو کې هم ترکیې له اسرائیلو سره سیاسي اړیکې پرې کړې وې، خو په ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ز. کالونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې بېرته ورغېدې. د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر جګړې وروسته ترکیې یو ځل بیا له اسرائیلو سره خپلې سیاسي اړیکې پرې او خپل سفیر یې ترکیې ته وغوښت. ( ABUMBE and Others, 2024, P. 173) همدارنګه بحرین او اردن د منځني ختیځ نور هغه هېوادونه وو، چې له اسرائیلو سره یې خپلې سیاسي اړیکې پرې کړې او سفیران یې خپلو هېوادونو ته وروغوښتل.

د دې جګړې بله سیاسي اغېزه د اسرائیلو او سعودي عربستان پر اړیکو پرېوته، دواړه هېوادونه د اړیکو د عادي کولو او د سعودي عربستان له لوري د اسرائیلو په رسمیت پېژندلو ته نږدې شوي وو او حتی ویلی شو چې دا موضوع یې نهایي کړې وه، خو د جګړې له پیل وروسته د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د نارملایزیشن تړون په سر خبرې ودرېدې او کېدای شي تر ډېر وخت پورې دا تړون لاسلیک نشي. همدارنګه بحرین د منځني ختیځ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې اسرائیل یې په رسمیت پېژندلی او د نارملایزیشن تړون یې ورسره لاسلیک کړی دی، د دغه هېواد پارلمان له حکومت

وغوښتل چې اسراییلو سره د نارملایزیشن تړون لغوه کړي. ( Middle East Monitor, 2023) تونس بیا د یوه قانون مسوده ترتیب کړه چې که هر حکومت د اسراییلو سره د نارملایزیشن تړون لاسلیک کړ هغه به ملي خیانت او جرم ګڼل کیږي. ( Aljazeera, 2023)

جنوبي افریقا د عدالت په نړیواله محکمه کې پر اسراییلو دعوه اقامه کړه، چې په دې وروستیو کې د ترکیې هیواد هم ورسره ملګری شوی دی. په اروپا او امریکا متحده ایالاتو کې د پوهنتونونو محصلینو د دې جګړې پرخلاف لاریونونه وکړل او د اوربند غوښتنه یې وکړه، چې دا کار له یوې خوا د فلسطین له قضیې سره مرسته کوي او له بل لوري د امریکا متحده ایالاتو ظلم برملا کوي.

بله ستره پیښه چې د دې جګړې په پرمهال ترسره شوه هغه د حماس د سیاسي دفتر مشر د اسماعیل هنیة شهادت و، چې له سیاسي او امنیتي پلوه یې پر حماس منفي اغیزه وکړه. اسماعیل هنیه چې د فلسطین د مقاومت له مخکښو شخصیتونو څخه و، هغه مهال شهید کړای شو چې نوموړی د ایران د نوي ولسمشر (مسعود پزشکیان) د لوړې په مراسمو کې د ګډون لپاره دغه هېواد ته تللی و. په داسې حال کې چې د څه د پاسه ۸۰ هېوادونو چارواکو په دې مراسمو کې ګډون کړی و، اسماعیل هنیه او د هغه یو ساتونکی د روان کال د جولای د میاشتې پر ۳۱مه نېټه د تهران په شمال کې د هغه د اوسېدو ځای کې د اسرائیلو له خوا د نړیوالو قوانینو په سرغړونې سره شهیدان کړای شول. دغې پیښې په ملي او نړیواله کچه غبرګونونه راوپارول. چې د فلسطین دولتي چارواکو او فلسطیني جبهې ترڅنګ د چین، روسیې، ترکیې، عراق، افغانستان او په لسګونو نورو هېوادونو دولتي چارواکو دغه برید په کلکه وغانده او په ګڼو اسلامي او عربي هېوادونو کې د هنیه غایبانه جنازه ترسره شوه. (خبرگزاری صدا وسیما، ۱۴۰۳ هـ.ل.) دې پیښې په عمومي ډول د فلسطین د قضیې په اړه په نړیواله کچه همدردي پیدا کړه او ډېری هېوادونو د اسراییلو غندنه وکړه او د اسراییلو د ظلمونو خلاف هم یوه همنظري رامنځته شوه. پر نړیوال نظم

یې اغېزې دا دي چې په نړیواله کچه د امریکا متحده ایالاتو حیثیت ته صدمه ورسېده، چین او روسیې له دې جګړې تبلیغاتي استفاده وکړه او پر امریکا متحده ایالاتو یې تبلیغاتي ګذارونه وکړل. په منځني ختیځ کې د چین د نفوذ د مخنیوي هڅې یو څه خنډ سره مخ شوې. همدارنګه په سیمه کې ایران د سعودي عربستان په خلاف له دې جګړې تبلیغاتي ګټه پورته کړه.

د سیمې په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست بدلون ومومند، ځکه امریکا متحده ایالاتو غوښتل د نړیوال نظم د مشرۍ د ساتلو په موخه د نورې نړۍ خپله لمنه راټوله او یوازې په انډوپسفیک کې د چین مخنیوی وکړي او په ختیځه اروپا کې د اوکراین د جنګ پرمهال روسیه وځپي، خو د حماس او اسراییلو دې جګړې دوی بېرته اړ کړل چې منځني ختیځ ته په خپل بهرني سیاست کې یو ځل بیا ځانګړی ځای ورکړي.

**۲- امنیتي اغېزې**

دې جګړې د سیمې پر امنیتي وضعیت منفي اغېزې ښندلې دي. لومړی دا چې په سیمه کې یوه جګړه پیل شوه او دا خپله د سیمې د هېوادونو پر رواني امنیت منفي اغېزې لري.

دویم دا چې د جګړې پرمهال د مصر، اردن او لبنان پولې ناامنه شوې چې ورسره د فلسطین او اسرائیلو د ناامنۍ ترخنګ دغه درې هېوادونه هم له جګړې کړېږي او د دوی پر امنیتي وضعیت یې هم منفي اغېزه کړې ده.

درېیم دا چې د دې جګړې د پراخېدو نور امکان هم شته. په ځانګړي ډول که د ایران او اسرائیلو ترمنځ غچ اخیستونکو بریدونو کې د امریکا متحده ایالات هم دخالت وکړي او بیا دا جګړه پر یوه سیمه ییزه جګړه بدله شي.

څلورم دا چې د سیاسي چارو یو امریکایي څېړونکی کوهن (Eliot A. Cohen) وایي: دا جګړه کېدای شي سیمه‌ییزه شي او ایران غواړي چې له دې جګړې د یوه فرصت په

توگه ګټه واخلي او اسرائیل له نظامي او اقتصادي پلوه کمزوری کړي او د دې کار لپاره په لبنان کې له حزب الله، یمن کې له حوثیانو او سوریې کې هم له خپلو ډلو کار واخلي چې له دې سره به دا جګړه نوره هم پراخه او سیمه‌ییزه شي ( Safdar, 2024, P. 171).

همدارنګه ځینې وخت په عراق، سوریې او د منځني ختیځ په نورو هېوادونو کې پر امریکایي اډو هم بریدونه کېږي، چې د اړونده هېوادونو امنیتي وضعیت یې له ګواښ سره مخ کړی. د دې ترڅنګ د اسرائیلو ځینې مزایل پر مصر هم لګېدلي چې وروسته یې دا سهوه وګڼله او له مصري حکومت یې بښنه وغوښته، خو د مصر ولس او حکومت دې ته ورته چارو څخه بیا هم اندېښمن دی او دغه هېواد کې هم امنیتي بې‌ثباتي رامنځته شوې ده.( WARE, 2023 ) لنډه دا چې دې جګړې د سیمې پر امنیتي وضعیت پراخې منفي اغېزې لرلې دي.


**۲- اقتصادي اغېزې**

دا جګړه لومړی پر فلسطین او اسرائیلو منفي اقتصادي اغېزې لري، ځکه د اسرائیلو له لوري پر غزه هوایي او ځمکنی برید روان دی، چې له امله یې د فلسطین زېربناوې له منځه تللې، سوداګري یې په ټپه ولاړه ده، د اوسېدو ځایونه نړېدلي، د بې‌کارۍ کچه ورسره لوړه شوې، فابریکې او ځینې نور سوداګریز مارکیټونه هم ورسره له منځه تللي. همدارنګه پر اسرائیلو د حماس له لوري د برید او ځینې وخت د حزب الله او نورو ډلو د برید له امله د هغوی اقتصاد هم ضربه لیدلې ده، ځکه پر اسرائیلو د برید له وېرې بهرنۍ مستقیمه پانګونې له خنډ سره مخ ده، د سیالانیانو کچه صفر ته راښکته شوې، د توکو قیمتونه ورسره لوړ شوي، د جګړې له امله په ګمرکونو کې تګ او رتګ کم شوی، ځینې زېربناوې یې هم تخریب شوې او تر ټولو مهم دا چې د اسرئیلو د بودیجې اکثره برخه اوس نظامي برخې ته ځانګړې شوې چې له امله یې په تعلیمي، اقتصادي، ټرانزیټي، زېربنایي او نورو برخو کې پانګونه په ټپه ولاړه ده ځکه د دې برخو بودیجه پر جګړه مصرفیږي. (Bhattacharya, 2023, P. 332) د حماس او اسرائیلو دا اقتصادي تاوان کېدای شي

کلونه وخت ونیسي چې بېرته جبران شي او دا خپله په دې دواړو هېوادونو د دې جګړې منفي اغېزې روښانه کوي.

همدارنګه دې جګړې پر سیمه هم منفي اقتصادي اغېزې لرلې دي، لومړی دا چې د نفتو نرخونه ورسره تقریباً لس سلنه لوړ شوي، د جګړې په اوایلو کې تقریباً د یو بېرل نفتو قیمت له ۷٦ ډالرو څخه نږدې ۹٦ ډالرو ته لوړ شو او د فاینېنشل ټایم د راپور پر بنسټ که په غزه کې اوربند ونشي، نو دا قیمت کېدای شي له سل ډالرو هم واوړي. همدارنګه د توکو د تولید قیمت او ټرانسپورټ قیمت هم تېلو پورې اړه لري، نو څومره چې د تېلو قیمت لوړېږي په هماغه کچه ورسره د توکو او ټرانسپورټ قیمت هم لوړېږي چې دا په منځني ختیځ او په ټوله سیمه کې د جګړې منفي اقتصادي اغېزې روښانه کوي.

همدارنګه د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ د حماس او اسرائیلو په جګړه کې د لبنان حزب الله، حوثیانو، ایران او نورو ډلو او دولتونو دخالت به دا جګړه په یوه سیمه‌ییزه جګړه بدله کړي چې له امله یې امکان لري چې د تېلو قیمتونه ورسره ۷۵ سلنه لوړ شي او که د سیمې هېوادونه او په ځانګړي ډول سعودي عربستان د تېلو په تولید کې کموالی راولي، نو امکان لري چې د یو بېرل تېلو قیمت ۱۵۷ ډالرو ته لوړ شي چې دا به د تېلو په تاریخ کې تر ټولو لوړ قیمت وي. (Bhattacharya, 2023, P. 332)




Source: https://www.ft.com/content/7792b40f-8436-4ebf-aeb0-aab250380e0d

همدارنگه د دې جګړې له امله په سیمه کې ځینې مهمې سوداګریزې لارې له ستونزو سره مخ شوې، چې له امله یې د سیمې په سوداګرۍ او اقتصاد منفي اغېزې کړې دي. د بېلګې په ډول: په سور سمندرګي کې د یمن انصارالله (حوثیانو) د اسرائیلو پر څو سوداګریزو کښتیو بریدونه کړي چې له امله یې نړیواله سوداګري اغېزمنه شوې ده. سور سمندرګی د سویز کانال له لارې منځنی ختیځ له مدیترانې سمندر سره نښلوي چې د اروپایانو لپاره تر ټولو لنډه او ارزانه سوداګریزه لار ده، چې اوس د حوثیانو له لوري ناامنه شوې او له امله یې په بلجیم او جرمني کې د موټر جوړولو فابریکې له کاره لوېدلې دي. د مریلېنډ په نوم شرکت چې د روغتونونو لپاره بېلابېل مواد جوړوي تراوسه په نامعلوم وضعیت کې دی؛ ځکه ډېر وخت وشو چې له اسیا څخه ورته خام مواد نه دي رسېدلي. د الکترونکي موټرو جوړولو تر ټولو لوی امریکایي شرکت ټیسلا هم بند شوی دی، ځکه خام مواد یې له اسیا څخه ځنډېدلي دي. د سویډني موټرو شرکت (Volvo) هم د خامو موادو د ځنډېدو له امله کار درولی او دې ته ورته نورې ډېرې فابریکې په امریکا او اروپايي کې له ورته برخلیک سره مخ دي.

همدارنګه تر اوسه ۱۳ سمندري کارګو شرکتونو د سور سمندرګي او سویز کانال له لارې د موادو راوړل بند کړي دي، (Wiseman and Anderson, 2024) چې دا خپله د سیمې پر اقتصاد منفي اغېزې لري، ځکه له دغو لارو د منځي ختیځ هېوادونو ډېر عاید لاسته راوړي او کله چې دا لارې بندیږي او یا پرې سوداګري کمیږي طبیعي ده چې د سیمې پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزې پرېباسي.

د دې ترڅنګ، په منځني ختیځ کې د سرو زرو نرخونه لوړ شوي، سیمې ته د سیلانیانو راتګ کم شوی چې د سیمې د هېوادونو د اقتصاد د پیاوړتیا مهم عنصر ګڼل کیږي، په سیمه کې بهرنۍ مستقیمه پانګونه اغېزمنه شوې او دې ورته داسې نور موارد هم شته چې د سیمې اقتصادي وضعیت ورسره اغېزمن شوی دی.

**پایله**

نړیوال نظام د بدلېدو په حال کې دی او کېدای شي راتلونکی نړیوال نظام به څو قطبي وي، چې هر دولت به د خپل قدرت په اندازه په دغه نظام کې شریک وي. طبعي خبره ده چې چین او روسیه به په راتلونکي نړیوال نظام کې مهم رول ولري. په ختیځه اروپا کې د اوکراین جګړه، د چین او تایوان قضیه او په منځني ختیځ کې د فلسطین او اسرائیلو جګړه هغه مهمې پېښې دي چې د نړیوال نظام په بدلون کې به مهمه ونډه ولري.

حماس د ۷م اکتوبر له برید وروسته خپل ځان د فلسطین د قضیې اصلي لوری او مدافع ثابت کړ. حماس د خپل ځان او فلسطین د له منځه تللو د مخنیوي، د خپلې خاورې د ازادۍ، د بیت المقدس په اړه د دیني مکلفیت د اجراء کولو، په اسرائیلي زندانونو کې د خپلو بندیانو د ازادولو، د عربانو او اسرائیلو ترمنځ د نارملایزیشن تړون د مخنیوي او د خپل سیمه ییز موقف د لوړاوي په موخه دا برید طرحه او پلی کړ.

له امنیتي اړخه دې جګړې د سیمې پر امنیتي وضعیت منفي اغېزې لرلې دي، ځکه په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول له دې جګړې اردن، مصر، لبنان، سوریه، عراق، ایران او نورو هېوادونه اغېزمن شوي دي. له سیاسي پلوه د اسرائیلو حیثیت په نړیواله کچه خراب شو، د سیمې له هېوادونو سره یې سیاسي اړیکې پرې او یا هم خرابې شوې. همدارنګه له اقتصادي پلوه په سیمه کې د نفتو قیمتونه لوړ شوي چې ورسره د توکو او ټرانسپورټ قیمتونه هم پورته تللي، سیمې ته د سیلانیانو راتګ کم شوی، مستقیمه بهرنۍ پانګونه اغېزمنه شوې چې دا په سیمه د دې جګړې منفي اقتصادي اغېزې روښانه کوي.

سره له دې چې په دې جګړه کې د فلسطین زېربنا ړنګه شوه، په زرګونو وګړي یې شهیدان شول، د بې کارۍ کچه ورسره لوړه شوه، تعلیمي سکټور یې اغېزمن شو، خو د فلسطین داعیه راژوندۍ شوه. د دې ترڅنګ د امریکا متحده ایالاتو، اروپایانو او اسرائیلو

د بشري حقوقو داعیه دروغجنه او حیثیت یې سخت خراب شو. چین او روسیې د غرب په خلاف او ایران د سعودي عربستان په خلاف له دې جګړې تبلیغاتي ګټه پورته کړه.

**وړاندیزونه**

۱- د نړۍ ټول مسلمانان باید د بیت المقدس د دفاع او په غزه کې د روان ظلم په اړه خپل غږ پورته کړي او خپل اړوند حکومتونه اړ کړي چې په سیاسي او نظامي لحاظ د فلسطین دفاع ته راودانګي.

۲-اسلامي امارت باید د اسرائیلو د مظالمو د غندلو ترڅنګ د بیت المقدس او فلسطین د دفاع لپاره سیمه ییزې او د اسلامي هېوادونو ترمنځ نړیوالې اجماع رامنځته کولو هڅې وکړي.

۳- د نړۍ مسلمانان باید په غزه کې د روان بشري ناورین د مخنیوي په موخه له فلسطینیانو سره اقتصادي مرستې وکړي.

۴- که حالاتو ته په واقعي بڼه وګورو، نو د دولتونو حل په اوسنیو شرایطو کې په مؤقتي ډول سم دی، نو حماس او فلسطیني دولت دې د خپلو وګړو د ساتنې او د اوربند د رامنځته کېدو په موخه دغه حل ومني.

## مأخذونه

۱- بهاره، سازمند، (۱۳۹۰ هـ.ل.)، سیاست خارجی قدرت های بزرگ، مؤسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر، تهران.

۲- قانت، عبدالحی، (۱۴۰۲ هـ.ل.)، «دویمه نکبه او د حماس محاسبه»، تحلیلي بحث.

۳- خبرگزاری صدا وسیما، (۱۴۰۳هـ.ل.) «واکنش‌های بین المللی به شهادت اسماعیل هنیه» لینک:
واکنش های بین المللی به شهادت اسماعیل هنیه | خبرگزاری صدا و سیما (iribnews.ir)

4- ABUMBE, GABRIEL T., ALAGH, TERHILE AND DEDE, CHINYERE HELEN, (2024), HAMAS-ISRAEL CONFLICTS IN GAZA AND ITS IMPLICATIONS FOR MIDDLE EAST STABILITY, GLOBAL JOURNAL OF SOCIAL SCIENCES VOL 23, Access link: https://www.ajol.info/index.php/gjss/article/view/273873

5- Aljazeera, (3 Sep, 2024), Israel- Hamas War, Live Tracker, Access link: https://www.aljazeera.com/amp/news/longform/2023/10/9/israel-hamas-war-in-maps-and-charts-live-tracker

6- Aljazeera, (13 Sep 2023), What were the Oslo Accords between Israel and the Palestinians?, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/9/13/what-were-oslo-accords-israel-palestinians

7- Aljazeera, (Dec 2003), the History of Jerusalem, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2003/12/9/the-history-of-jerusalem

8- Aljazeera, (2 Nov 2023), Tunisia debates bill to criminalise normalisation of ties with Israel, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/11/2/tunisias-parliament-deliberates-on-anti-israel-normalisation-bill

9- Asmaa, Abushabab, (2014), The Disaster of Palestine, ADPC, Access link: https://www.adpc.net/igo/contents/iPrepare/iprepare-news_id.asp?ipid=234

10- Bader, Ashraf, (2023), Academic Paper: Analyzing the Decisive Plan of the Religious Zionist Party, Al- Zaytouna Center for Studies and Consultations, Access link: https://eng.alzaytouna.net/2023/05/03/academic-paper-analyzing-the-decisive-plan-of-the-religious-zionist-party/

11- Bhattacharya, Subhendu, (2023), Economic, Social and Geopolitical Impact of Israel Hamas Conflict in 2023, International Journal of Multidisciplinary Research and Publications, ISSN (Online): 2581-6187,

Access link: IJMRAP_V6N6P188Y23-libre.pdf (d1wqtxts1xzle7.cloudfront.net)

12- Cohen, Avner, (2017), The 1967 Six-Day War: New Israeli Perspective, 50 Years Later, Wilson Center, Access link: https://www.wilsoncenter.org/publication/the-1967-six-day-war

13- Ellenbogen, Hesham Youssef, Robert Barron and Adam Gallagher, (2023), Is a Saudi-Israel Normalization Agreement on the Horizon? United States Institute of Peace, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/09/saudi-israel-normalization-agreement-horizon

14- Hatuqa, Dalia, (2023), The Nakba: Five Palestinian towns massacred 75 years ago, Aljazeera, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/5/15/the-nakba-five-palestinian-towns-massacred-75-years-ago

15- Haddad, Mohammed and Chughtai, Alia, (2023), Israel-Palestine conflict: A brief history in maps and charts, Aljazeera, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/11/27/palestine-and-israel-brief-history-maps-and-charts

16- Jeffery, Simon and Agencies, (2006), Hamas Celebrates election Victory, The Guardian, Access link: https://amp.theguardian.com/world/2006/jan/26/israel1

17- MEARSHEIMER, JOHN J., (2007), International Relations Theories: Discipline and Diversity, Commack Schools, Access link: https://www.commackschools.org/Downloads/8_mearsheimer-_structural_realism.pdf

18- Middle East Monitor, (2023), Bahrain parliament pushes to reverse normalisation with Israel, Access link: https://www.middleeastmonitor.com/20231108-bahrain-parliament-pushes-to-reverse-normalisation-with-israel/

19- Nakhoul, Samia, (2023), Another Israel- Hamas Prisoners Swap Will take place this month- Palestinian official, Reuters, Access link: https://www.reuters.com/world/middle-east/another-israel-hamas-prisoner-swap-will-take-place-this-month-palestinian-2023-11-22/

20- Wiseman, Paul and Mae, Anderson, ( 2024), Attacks on Ships in the Red Sea Are Disrupting Global Trade: Here’s how it could affect what you buy, The Associated Press News, Access link: https://apnews.com/article/red-sea-houthi-attacks-shipping-inflation-124d5445bec8ce6864112e3095646308

21- Safdar, Maira, (2024), ISRAEL-HAMAS WAR IN GAZA: REARRANGEMENT OF REGIONAL POWERS AND

IMPLICATIONS FOR THE MIDDLE EAST, Margalla Papers, Issue 1, Access link: https://margallapapers.ndu.edu.pk/site/article/view/246/165
22- WARE, DOUG G., (2023), Attacks against US troops in Iraq, Syria rise to 23, Pentagon says, Stars and Stripes, October 30, 2023, Access link: https://www.stripes.com/theaters/middle_east/2023-10-30/american-forces-drones-rockets-iraq-syria-iran-11880249.html
23- Zena Al Tahhan, (2018), More than a century on: The Balfour Declaration explained, Aljazeera, Access link: https://www.aljazeera.com/features/2018/11/2/more-than-a-century-on-the-balfour-declaration-explained